
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۱۸مه | ۴۳۰مه گڼه
2 017550 139621

# کابل او پروان؛
## د طالبانو ځانمرگو بریدونو ۱۲۸ کسانو ته مرگ ژوبله واړوله



### زیاتېدونکې جگړه؛ زیانونه او ناوړه سیالۍ
۲ مخ

### په یوه میاشت کې د افغانستان د جگړې د سر زیان
۲ مخ

### داخلي بې ځایه شوي؛ په افغانستان کې د جگړې او ناامنۍ قربانیان
۳ مخ

## د امنیت شورا غړي په افغانستان کې د یوناما د ماموریت د غځېدو پر سر هوکړې ته نه دي رسېدلي

د امنیت شورا غړي په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د سیاسي دفتر د ماموریت د غځېدو پر پرېکړه لیک هوکړې ته نه دي رسېدلي.
ویل کېږي چې چین او روسیه په دغه پرېکړه لیک کې د چین د «یوه کمربند او یوې لارې» د طرحې په تړاو له امریکا سره د نظر اختلاف لري.
د امنیت شورا غړو د دوشنبې په ورځ د تړلو دروازو تر شا خبرې کړې دي، خو د چین د غوښتنې له کبله د پرېکړه لیک پر سر هوکړې ته نه دي رسېدلي.
د ملگرو ملتونو په امنیت شورا کې د روسیې سفیر چې اوس د شورا دوره یې مشري هم پر غاړه لري، تر غونډې وروسته خبریالانو ته ویلي چې ډیپلوماتان پر نوې مسودې کار کوي.
نوموړي ویلي چې امنیت شورا به په راتلونکي کې د رایو په اتفاق سره یوه تړون ته د رسېدو په هیله بیا سره غونډه وکړي.
د یادونې ده چې په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د سیاسي دفتر یا یوناما شپږ میاشتنی ماموریت د سه شنبې په ورځ پای ته رسېږي او له دې وروسته باید نوی استازي ورته معرفي شي.


د ټاکنو کمېسیون کمېشنر:
## گواښونو ته په کتو د رای اچونې وروستي نوملړ واقعي نه دی



۵ مخ

# کتاب
۴ مخ

## بریالي خلک




په ټوله کې دا کتاب درته وایي، که غواړی خپلو موخو ته ورسېږی، خپلو خبرو ته وده ورکړئ. که غواړی ارزښت لرونکي و اوسی، باید خپل شخصیت ته وده ورکړئ. که غواړی په خپل کار کې ماهر و اوسی، خپل مهارتونه لوړ کړی.

## په کندهار کې د هېواد په کچه د درمل جوړولو تر ټولو لویه فابریکه جوړېږي




په کندهار کې د هېواد په کچه د درملو د تولید تر ټولو لویه فابریکه جوړېږي، چې اوسمهال یې د ودانۍ جوړولو چارې نیمایي مخ ته تللي دي.
د سنو فارما په نوم دغه فابریکه به پر نړیوال معیار درمل تولیدوي، چې د کار ټول بهیر به یې د نړیوال روغتیایي سازمان لخوا څارل کېږي.
خلک او د روغتیا برخې کارکوونکي وایي، د دې فابریکې له فعالېدو سره به هېواد تر یوه بریده د درملو په برخه کې بر خپل ځان بسیا او د غیر معیاري درملو د واردېدو مخنیوی به هم وشي. د یادې فابریکې رییس محمدسعید صدیق رسنیو ته ویلي، دغه لویه فابریکه د ۷۱ افغان سوداگرو په گډه ونډه جوړېږي، چې دا په هېواد کې د ډېرو پانگه والو لومړنی سهامي شراکت دی. هغه زیاته کړه، د دې فابریکې پر جوړولو ۳۱ میلیونه ډالر لگښت راځي چې په ۲۰۲۰ ز کال کې به گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## کمیسیون شکایات: تا کنون ٦٦ شکایت انتخاباتی از مرکز و ولایات در این کمیسیون ثبت شده است



کمیسیون شکایات انتخاباتی اعلام کرد که از آغاز کارزارهای انتخاباتی تا کنون، ٦٦ شکایت از مرکز و ولایات در دفتر مرکزی این کمیسیون ثبت شده است.
زهره بیان شینواری رئیس این کمیسیون، دیروز در یک نشست خبری در ولایت هرات گفت: «در تمام ولایات کشور، ٦٦ شکایت به ثبت رسیده است که چهار مورد آن مربوط ولایت هرات می گردد».
خانم شینواری همچنان گفت که برای هشت نامزد انتخابات توصیه، دو اخطاریه جدی و جریمه نقدی داده شده است.
او تصریح کرد که این شکایت‌ها از سوی نامزدان ریاست جمهوری علیه یک دیگر شان است و بیشتر شان از سوی تیم‌های انتخاباتی «ثبات و همگرایی» و «دولت ساز» نزد کمیسیون رسیدگی به شکایات انتخاباتی ثبت شده است.
محمد قاسم الیاسی سخنگوی و کمیشنر کمیسیون شکایات انتخاباتی گفت: «از مجموع ٦٦ شکایت که ما دریافت کردیم، حدود ۷۰ درصد آن فیصله شده، مطابق به ماده ۹۸ قانون انتخابات و یا طرزالعمل ها بعضی جریمه نقدی و برای شماری هم توصیه صورت گرفته است».
این در حالی است که با وجود ناامنی ها قرار است که تا نُه روز دیگر (ششم میزان)، انتخابات ریاست جمهوری در سراسر کشور برگزار شود.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازي ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دريـځ

### زياتېدونکې جگړه؛ زيانونه او ناوړه سيالۍ

پرون دوې امنيتي پېښې وشوې چې لسگونو کسانو ته يې مرگ ژوبله واړوله. يوه پېښه په کابل کې وشوه او دويمه هم په پروان کې. کورنيو چارو وزارت وايي، په لومړۍ پېښه کې د شپږو نظاميانو په گډون، ۲۲ کسان وژل شوي او ۳۸ نور ټپيان دي، چې پکې ښځې او ماشومان هم شامل دي. په دويمه پېښه کې هم پراخه مرگ ژوبله اوښتې ده. کورنيو چارو وزارت وايي، په پېښه کې د څلورو نظاميانو په گډون، ۲٦ ملکي وگړي وژل شوي او ۴۲ نور ټپيان دي.

له بده مرغه په دې وروستيو کې تاوتريخوالی په بې ساري ډول زيات شوی دی. دا تاوتريخوالی د سولې له خبرو او په ځانگړي ډول د خبرو له ځنډ سره تړلی دی. دغه راز ټاکنې هم د دې تاوتريخوالي مهم لامل دی. حکومت غواړي په ټاکنو سره په راتلونکو پنځو کلونو کې خپله واکمني يقيني کړي، خو طالبان غواړي په بريدونو او جگړې سره د ټاکنو مخه ونيسي. له همدې امله تاوتريخوالی زيات شوی او وېره ده چې نور به هم زيات شي.

څه چې په دغو جگړو او وژنو کې ډېر د اندېښنې وړ دي، هغه د ملکي وگړو زياتېدونکې مرگ ژوبله ده. په وروستيو بريدونو کې تر ډېره ملکي وگړي وژل کېږي. که طالبان په ښارونو کې بريدونه کوي، لويه برخه مرگ ژوبله يې ملکي وگړو ته اوړي، ځکه دا بريدونه تر ډېره د خلکو د استوگنې او گڼې گوڼې په ډکه سيمه کې کېږي. طالبان په دغو بريدونو کې ملکي مرگ ژوبله نه مني، خو کله چې خبره ډېره روښانه شي، نو همدا خبره تکراروي چې خلک دې د نظامي مرکزونو او هغو اهدافو تر څنگ استوگنه او گرځېدل نه کوي، چې د دوی د بريدونو هدف دي. له بله اړخه حکومتي او امريکايي ځواکونه هم په شپنيو عملياتو او بمباريو کې ډېری ملکي وگړي وژني. دوی هم هر وخت هڅه کوي چې د ملکيانو پر وژنه سترگې پټې کړي، خو چې کله د پټېدو نه وي، نو بيا وايي چې خلک دې طالبانو ته په خپلو سيمو او کورونو کې ځای نه ورکوي. دوی طالبان هم تورنوي چې د خلکو کورونه او د استوگنې سيمې د ډال په توگه کاروي.

رښتيا دا دي چې دواړه لوري د ملکيانو د ژوند په تړاو بې توپيره دي. نه خو ملکي وگړي طالبان له خپلو کلو او بانډو ايستلی شي او نه هم ملکي وگړي نظامي مرکزونه د استوگنې له سيمو ايستلی شي. طالبان او دولت دواړه له خلکو او د خلکو د استوگنې له کورونو او سيمو سره گډ شوي دي، چې جلا کول يې سخت دي، نو ځکه له دواړو اړخونو په هغو سيمو کې بريدونه ناسم دي، چې هلته د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې شونتيا وي.

له بله اړخه دواړه لوري بايد د کرکې او نفرت د زياتېدو پر ځای د سولې او نږدې کېدو هڅې وکړي. نه له طالبانو پرته په دې وطن کې سوله راځي، نه ټاکنې ممکنې دي او نه هم زموږ ستونزې حل کېدلی شي. همداسې طالبان دې هم د حکومت او نورو مخالفينو د ورک کولو، يو مخ له منځه وړلو او وژلو فکر له سره وباسي. دا کار ناشونی دی. دواړو اړخونو ته پکار ده چې نور د جگړې او وحشت دا سيالي ودروي.

# په يوه مياشت کې د افغانستان د جگړې د سر زيان

بي بي سي- پښتو

د بي بي سي هغې څېړنې چې د افغانستان د جگړې د سر زيان د کچې معلومولو لپاره شوې، موندلې چې دغه تاوتريخوالي د افغانستان هره نقطه اغېزمنه کړې.

دغې هر اړخيزې څېړنې هڅه کړې چې په اگست مياشت کې د تاوتريخوالي هره پېښه وڅاري او له مختلفو سرچينو څخه يې تاييد کړي. له مخامخ جگړو، تر شپنيو عملياتو، هوايي بريدونو، هدفي وژنو او چاودنو.

دغې څېړنې وښودله چې د اگست مياشتې هېڅ ورځ بې تاوتريخوالي تېره نشوه. سترو بريدونو چې اکثره د خبرونو سرټکي جوړوي، تر ځينو کوچنيو بريدونو، چې رسنيو ته يې راپور نه ورکول کېږي، هره ورځ په ټول هېواد کې دوام درلود.

د اگست مياشتې په اوږدو کې د بي بي سي دغې څېړنې ٦۱۱ امنيتي پېښې تاييد کړې چې ۲۳۰۷ کسان پکې وژل شوي. د لږ تر لږه ۱۹۴۸ کسانو ټپي کېدل هم تاييد شول.

که څه هم دا د يوازې يوې مياشتې حال دی، ښکاري چې ملکيان د دغې جگړې ډېره لوړه بيه پرې کوي.

له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل د بېلابېلو هېوادونو لپاره د بهرنۍ پاليسۍ له مهمو بحثونو دی. دا وېره لا هم پر ځای پاتې ده چې د ولسمشريزو ټاکنو له رانږدې کېدو سره تاوتريخوالی لا ډېرېږي.

په دې تړاو چې بي بي سي په اگست مياشت کې دا معلومات څرنگه راټول کړي، د دغه خبر وروستۍ برخه وگورئ.

**د پرله‌پسې تاوتريخوالي مياشت**

دغې څېړنې وموندله چې د ۲۰۱۹ ميلادي کال په اگست مياشت کې هره ورځ په اوسط ډول لږ تر لږه ۷۴ کسان وژل شوي.

لوی اختر هم په دې مياشت کې و چې ښکارېده طالبانو او افغان حکومت تر يو بريده نااعلان شوی اوربند درلود. خو له دې سره سره، د اختر په ورځو کې له بېلابېلو پېښو بي بي سي ته ۹۰ مرگونه تاييد شول. تر ټولو لوړه مرگ‌ژوبله د اگست په ۲۷مه ثبت شوه، په دغه ورځ د هېواد په بېلابېلو برخو کې ۱٦۲ کسان ووژل شول او ۴۷ ټپيان شول. خو د ملکيانو لپاره د اگست اتلسمه تر ټولو خونړۍ ورځ وه چې ۱۱۲ کسان پکې ووژل شول.

په دې ورځ د کابل په شپږمه ناحيه کې د يوه واده په مراسمو کې ځانمرگی بريد وشو او ۹۲ مېلمانه يې ووژل. د دغو مراسمو زوم، ميرويس چې په خياطۍ يې د خپل واده پيسې پيدا کړې وې، غوښتل يې هغه شپه يې د ژوند تر ټولو ښې شپې وي .

خو د هغه د واده دا شپه د هغه د ډېرو نږدې ملگرو د مرگ لامل شوه. د هغه د ناوې هم خپل څو نږدې خپلوان او يو ورور پکې ووژل شول. د «اسلامي دولت» (داعش) په نامه وسله والې ډلې د دغه بريد مسووليت ومانه.

له دغې پېښې څو ساعته وروسته د هېواد په شمالي ولايت بلخ کې د ملکيانو پر يوه گاډي د ځای پر ځای شوي ماين د چاودنې له امله، د ښځو او ماشومانو په گډون ۱۳ کسان ووژل شول. د دغې ورځې تر پايه په غزني او فارياب کې شپږ نورې داسې پېښې هم ثبت شوې چې ملکيان پکې ووژل شول.

**ثبت شوي شمېرې څه وايي؟**

د څېړنې له مخې، په اگست مياشت کې د بېلابېلو منابعو له خوا د تاييد شوو وژنو ۹۷۴ يې طالبان ښودل شوي. يو لامل ښايي د حکومت‌پلوه ځواکونو د هوايي بريدونو ډېرېدل دي، چې د طالبانو او ملکيانو د مرگ‌ژوبلې د ډېروالي لامل شوی. که څه هم طالبانو په خپلو ټولنيزو رسنيو کې د اگست د مياشتې پېښې يا له سره منلې نه دي او يا يې د گوتو په شمېر مرگ‌ژوبله منلې. طالبانو د يوې وينا‌پاڼې په خپرولو سره په يوه مياشت کې د خپلو ۱۰۰۰ جنگياليو وژل کېدل په کلکه رد کړې او ويلي يې دي چې داسې هېڅ سند نشته چې په دې کچه د دوی مرگ ژوبله دې تاييد کړي. طالبانو په خپل وينا‌پاڼه کې د بي بي سي دغه څېړنه «د افغان حکومت پروپاگنده» بللې. د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد بی بي سي ته ويلي، د دوی مرگ‌ژوبله د افغان ځواکونو په پرتله شپږ سلنه ده.

افغان ځواکونو ته هم پراخه مرگ‌ژوبله اوښتې او د پوليسو، ملي اردو او دولت‌پلوه ملېشو په گډون، د ٦۷۵ ځواکونو د وژل کېدو راپورونه تاييد شوي. د افغانستان دفاع وزارت ويلي، د بي بي سي څېړنه «جدي بياکتنې ته اړتيا لري او د عيني واقعيتونو له مخې بايد ډېر جدي تحقيق وشي».

د افغان امنيتي ځواکونو د مرگ‌ژوبلې کچه تر ډېره پټه ساتل کېږي، نو د دغې مرگ‌ژوبلې د حقيقي کچې معلومول گران دي.

په جنورۍ مياشت کې افغان ولسمشر محمد اشرف غني ويلي وو چې ۴۵۰۰۰ امنيتي ځواکونه له ۲۰۱۴ ز کال راهيسې وژل شوي دي. په دې جگړه کې ملکيان ډېر او په پراخه کچه اغېزمن او زيانمن شوي.

بي بي سي ته يوازې د يوې مياشتې په اوږدو کې د ۴۷۳ ملکي وگړو وژل کېدل تاييد شول.

د ملگرو ملتونو د روان کال د موندنو په څېر د بي بي سي څېړنې هم وښودله، چې ملکيان د دواړو لورو تر منځ د جگړې لوړه بيه پرې کوي. که څه هم دا شمېرې يوازې د اگست مياشتې دي او په نورو مياشتو کې ښايي د جگړې عمومي انځور ډېر بېل وي.

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د استازنديه ماموريت يا يوناما د بشري حقونو د برخې مشره فيونا فرنزر د بي بي سي د دغې څېرنې په اړه وايي: «دغې جگړې پر ملکي وگړو ډېر پراخ اغېز لرلی». هغه زياتوي: «که څه هم د ملکي مرگ‌ژوبلې ثبت شوې شمېرې په ځورووونکي ډول لوړې دي، د تاييد لپاره يې کارېدلي دقيق ميتود ته په کتو، خپرې شوې شمېرې بيا هم د دغه زيان اصلي تصوير نه ښيي».

د جگړې ښکېل لوري بيا بيا په خپلو جنگي فعاليتونو کې د ملکيانو مرگ‌ژوبله ردوي.

**د جگړې د څرنگوالي يو تصوير**

د کندوز د جگړې او يا هم په کابل کې د واده پر مراسمو د ځانمرگي بريد په څېر پېښې د نړيوالو رسنيو د خبرونو سرټکي جوړوي. خو د افغانستان خونړۍ جگړه ډېر بېل تصوير لري، په تېره بيا په کوچنۍ کچه او د افغان امنيتي ځواکونو او طالبانو تر منځ د نښتو پر مهال.

په اگست مياشت کې د بي بي سي لخوا د افغانستان له ۳۴ ولايتونو يوازې په دريو کې د تاوتريخوالي د کومې پېښې راپور ورنه کړل شو. په هرو لسو کې يوه مرگونې پېښه له غزني ثبت شوه، چې تر ډېره بريده د طالبانو د فعاليت مرکزيت دی او له همدې امله پرې د افغان امنيتي ځواکونو د عملياتو تمرکز هم ډېر دی. په غزني کې له ثبت شوو ٦٦ پېښو درېيمه برخه يې هوايي بريدونه وو. په دغه راز تاوتريخجن چاپېريال کې د افغان ملکيانو د ژوند کيسې هم ډېرې ځورووونکې دي.

محب الله د ارزگان اوسېدونکی دی او د کندهار په مرکزي روغتون کې له هغې وروسته له بي بي سي سره غږېدلی، چې د ورور له اوږې يې ډاکټرانو يوه مرمۍ وايستله.

هغه په غوسه ناک انداز وويل: «کله چې زموږ په سيمه کې عمليات وي، عام خلک هېڅ ځای نه شي خوځېدلی، که دوی حرکت کوي، امريکايان يا افغان ځواکونه ډزې پرې کوي. دوی هر مهال چې زړه يې غواړي، بمونه غورځوي، زموږ شاوخوا ټول کورونه نړېدلي دي.»

**د نړۍ تر ټولو خونړۍ جگړه**

په افغانستان کې روانه جگړه له څلورو لسيزو ډېره غځېدلې. تېر کال د وسله والو جگړو د موقعيت او پېښو د معلوماتو پروژې (ACLED) وويل، چې د افغانستان جگړه د مرگونو له مخې د نړۍ پر مخ تر ټولو خونړۍ ده.

د دغې اداري معلوماتو ته په کتو، په اگست مياشت کې په افغانستان کې اوښتې مرگ‌ژوبله په سوريه او يمن کې د اوښتې مرگ‌ژوبلې درې برابره ډېره ده.

د ۲۰۱۹ ز کال په جون مياشت کې د سولې د نړيوال معلوماتي مرکز په راپور کې هم افغانستان د ځمکې پر مخ تر ټولو ناامنه هېواد وبلل شو.

**بي بي سي دا معلومات څرنگه راټول کړي؟**

بي بي سي له ټول افغانستان څخه د ۲۰۱۹ ز کال د اگست له لومړۍ تر ۳۱مې نېټې پورې، د تاوتريخوالي ۱۲۰۰ پېښې ثبت کړې، خو يوازې ٦۱۱ يې د بېلابېلو سرچينو له خوا تاييد شوې.

د دغو پېښو د تاييد او کره کولو لپاره بي بي سي د روغتيايي کارکوونکو، قومي مشرانو، ځايي شوراگانو، ځايي اوسېدونکو، عيني شاهدانو، حکومتي چارواکاو د روغتونونو او مخالفو وسله والو ډلو له سرچينو معلومات راټول کړل. د هرې پېښې لپاره لږ تر لږه دوې مختلفې سرچينې پوښتل شوې دي. کله چې د مرگ‌ژوبلې پېښه تاييدېدله، تر ټولو ټيټه اندازه تاييد شوې او د مرگ‌ژوبلې شمېر ترې ثبت شوی. د بېلگې په توگه، که د يوې پېښې په اړه دوو بېلابېلو سرچينو يوې لس کسان او بلې ۱۲ کسان تاييدول، موږ لس معتبر بللي يا هم که بېلابېلو سرچينو بېلابېلې شمېرې ورکولې، موږ تر ټولو ټيټې شمېرې معتبرې بللې.

د دغې څېړنې په اوږدو کې سلگونه هغه پېښې چې تاييد نه شوې، نه دي شمېرل شوې، ځکه نو موږ فکر کوو چې د پېښو، بريدونو او مرگ‌ژوبلې شمېر به له دغو شمېرو ډېر لوړ وي.

# د ايران سپاه پاسداران ځواک په فارس خليج کې د تېلو يوه بېړۍ نيولې ده

د ايران سپاه پاسداران ځواک ويلي چې په فارس خليج کې يې يوه بېړۍ په دې تور نيولې، چې متحده عربي اماراتو ته يې ډيزل په قاچاقي ډول لېږدول.

د سپاه پاسداران يوه جگپوړي قوماندان ويلي چې په دې بېړۍ کې دوه لکه ۵۰ زره ليتره ډيزل بار وو، چې د دوی د ځواکونو لخوا نيول شوې ده.

د دغه ځواک د قوماندان بريد جنرال علي عظمايي په خبره، دا بېړۍ چې د ايران لوی تُنب ټاپو ته نږدې نيول شوې، د ايران له لينگه بندر څخه د متحده عربي اماراتو د اوبو لور ته روانه وه.

نوموړي دغه راز ويلي چې د بېړۍ ۱۱ عمله يې هم توقيف کړې ده، خو په دې اړه يې څه نه دي ويلي چې دا بېړۍ يې کله نيولې او يا د هغې عمله د کوم هېواد اتباع دي.

د ايران سپاه پاسداران ځواک دا اعلان په داسې وخت کې کړی، چې په دې وروستيو کې په منځني ختيځ کې کړکېچ تر بل هر وخت د ډېرېدو په حال کې دی.

دا په داسې حال کې ده چې د روانې اونۍ د شنبې په ورځ د سعودي عربستان د تېلو پر سترو مرکزونو د بې پيلوټه الوتکو لخوا بريدونه شوي، چې پراخ مالي زيانونه يې اړولي دي.

سعودي عربستان او امريکا ويلي چې دغه بريدونه د ايران لخوا شوي دي او دغه هېواد ته يې د مناسب ځواب گواښ کړی، خو ايران بيا دغه تورونه رد کړي دي.

د سعودي عربستان د بقيق او خريص د تېلو پر تأسيساتو د شنبې د سهار د بريدونو له کبله، د دغه هېواد د تېلو نږدې نيمايي توليد په ټپه درېدلی او په نړۍ کې د اومو تېلو عرضه تر بل هر وخت له لوی ځنډ سره مخ شوې چې ورسره سم يې په نړيوال بازار کې د تېلو پر قيمتونو هم د پام وړ اغېز کړی دی.

د ايران د بهرنيو چارو وزارت وياند عباس موسوي په هغو خبرو کې چې د دغه هېواد دولتي ټلوېزيون خپرې کړې، ويلي چې د امريکا او سعودي عربستان هغه څرگندونې چې د ياد بريد تر شا د ايران لاس و، غندي او کاملاً د نه منلو او بې‌اساسه دي.

په همدې حال کې د ايران ولسمشر حسن روحاني په انقره کې د ترکيې او روسيې له ولسمشرانو سره له خبرو وروسته، د سعودي عربستان د تېلو پر تاسيساتو بريدونه پر يمن د يرغل پر وړاندې د دغه هېواد د خلکو ځوابي عمل بللی دی.

خو امريکايي چارواکو ويلي، د شنبې د ورځې د بريدونو له نښو نښانو ښکاري چې ايران پکې لاس لري، نه د يمن حوثيان.

د امريکا دفاع وزير مارک اسپر خبرداری ورکړی چې پوځ يې د سعودي عربستان د تېلو پر تاسيساتو د بريدونو پر وړاندې غبرگون ښودلو ته تياری نيسي.

# داخلي بې ځایه شوي؛

## په افغانستان کې د جګړې او ناامنۍ قربانیان

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز / ژباړه: مسیر ورځپاڼه

هغه راپور چې په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر (OCHA) لخوا خپور شو، ښیي چې د روان ۲۰۱۹ میلادي کال له پیله تر دې مهاله په کور دننه د بې ځایه شویو شمېر ۲۷۰ زرو کسانو ته رسېږي، چې د دې شمېرې ۸۵ سلنه برخه ماشومان او ۲۱ سلنه هغه یې ښځې جوړوي.

که څه هم د (اوچا) راپور په کور دننه د بې ځایه شویو اصلي لامل روانه جګړه او ناامني بولي؛ خو طبیعي پېښې، وچکالي، بېکاري، د اقتصادي وضعیت کمزورتیا او په زیربنایي برخو کې د پانګونې پکار نه اچونه هغه لاملونه دي، چې له امله یې په هېواد کې دننه خلک له خپلو استوګنځایونو بې ځایه شوي دي.

څنګه چې د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت راپور، چې پر جګړې او ناامنۍ سربېره، په کور دننه د بې ځایه شویو شمېر د روان ۲۰۱۹ میلادي کال له پیله د جون میاشتې تر اخري لسیزې ۳۴۶ زره او ۹۴ کسان یادوي، خو له دې وروسته د ۵۷ زرو او ۱۴۸ کسانو خپلو مېنو ته د بېرته ورګرځېدو خبره هم کوي. په کور دننه بې ځایه شوي د جنګ او ناامنیو قربانیان، د افغانانو بې پایه ستونزمنه کډوالي او دا چې سوله د ټولو افغانانو د ستونزو یوازینی حل دی؛ هغه موضوعات دي چې په دې تحلیل کې مو پرې بحث کړی دی.

د جنګ قربانیان

د کورنیو جګړو او بالخصوص پر افغانستان د امریکا له تېري سره سم، په سلګونو زره کسان مړه او ټپیان شوي، اته میلیونه ځوانان بېکاره دي او په میلیونو کډوال له بهرنیو هېوادونو راستانه شوي، د جنګ او ناامنیو له کبله ډېرې ښځې او ماشومان، سپین ږیري او ځوانان له یوه ځای څخه بل ځای ته کډې کوي.

په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د همکارۍ دفتر د خپور شوي راپور په اساس، په افغانستان کې د جنګ قدامت او دوام ته په کتو، ورځ تر بلې د بې ځایه شوو وګړو شمېر مخ پر زیاتېدو دی. په داسې حال کې چې د روان میلادي کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله، د بې ځایه شوو شمېر د ۲۰۱۷ میلادي کال په نسبت چې ۱۹۲ زرو کسانو ته رسېده، ۴۰ سلنه زیات شوی دی.

د امریکا پر څلورو میلیاردو ډالرو او ځینو نورو هېوادونو پر مرستو سربېره، جګړه لا هم زوروره شوې ده. تر اوسه ټول بې ځایه شوي تر خېمو لاندې، له صحي او تعلیمي خدماتو پرته ژوند کوي.

څنګه چې څه وخت مخکې د امریکا غږ اشنا راډیو د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د ویاند په خبره، د ټولو بې ځایه شوو شمېر تر دریو میلیونو او ۷۸۸ زرو زیات ښودلی، سرچینه د ویاند په خبره زیاتوي چې د دغو بې ځایه شوو له ډلې یې ٦٧ سلنه د جنګ او ناامنیو او ۳۳ سلنه هغه یې بیا د طبیعي پېښو او وچکالۍ په سبب له خپلو مېنو بې ځایه شوي دي.

کډوالي؛ د افغانانو تلپاتې کړاو

که څه هم کډوالي د انسان د ژوند یوه طبیعي ځانګړنه ده او کوم وخت چې انسان د ځمکې پر سر ژوند پیل کړی دی، له هماغې ورځې څخه راپدېخوا یې د چکر او زیاتو امکاناتو د تر لاسه کولو په موخه، په مقطعي ډول له یوې سیمې بلې ته کډه کړې ده، خو په افغانستان کې کډوالي بیا بېل داستان لري. د مختلفو عواملو له کبله، لکه ستراتېژیک موقعیت، ناسالم مدیریت، بېوزلۍ او اقتصادي ستونزو دغه هېواد د اوږدو استخباراتي جګړو په لومه کې راګیر کړی او له تېرو نږدې څلورو لسیزو راهیسې د دغه هېواد اوسېدونکي د ځان ژغورنې لپاره په کور دننه او بهرنیو هېوادونو ته د کډوالۍ لپاره اړ شوي دي.

له بلې خوا، د کورنیو جګړو په پای ته رسېدو، د طالبانو د نظام په نسکورېدو او د نوي حکومت په راتلو سره چې د نړیوالې ټولنې ملاتړ ورسره و، له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰٦ میلادي کال پورې د کډوالۍ کچه راټیټه شوه او باور دا و چې له دې وروسته به افغانان د کډوالۍ ترخه تجربه هېره کړي، خو له ۲۰۰۷ میلادي کال څخه راپدېخوا کله چې په افغانستان کې د جګړې ډګر بیا تود شوی، د نړیوالې ټولنې له مرستو سره سره، په دغه هېواد کې کډوالي لاهم یوه جدي ستونزه ده او د دغه هېواد په میلیونونو وګړي په کور دننه او بهر کډوالۍ ته اړ شوي دي.

تر ټولو لویه بدمرغي دا ده چې افغانان لاهم په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان د کمزوري خارجي سیاست له کبله له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. له دوی سره په کوربه هېوادونو کې پر ناوړه چلند سربېره، دوی په زور ایستل کېږي او یا هم نورو هېوادونو ته د جګړې لپاره استول کېږي.

د بېلګې په توګه، اوچا په دې وروستیو کې راپور خپور کړ چې ترکیې له دغه هېواده تر ٦۰۰ افغان کډوال په زور ایستلي دي. دغه راز د ایران د دولت یوه مخالف سازمان په وروستۍ نشریه کې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان کډوالو له ناوړه وضعیت څخه پرده پورته کړې ده او ویلي یې دي چې هلته مېشت افغان کډوال له ناوړه اقتصادي وضعیت سره مخ دي او د دغه هېواد حکومت یې له دې وضعیته ګټه اخلي او د پیسو په مقابل کې د سوریې او عراق جنګونو ته استول کېږي.

ویل کېږي چې اوسمهال په ایران کې نږدې یو نیم میلیون افغان کډوال ژوند کوي، چې ۵۳ سلنه یې ښځې او ۴۷ سلنه نور یې نارینه دي. دغه راز په کور دننه هم د منظمې پالیسۍ د نشتون له کبله هم کډوال له ډېرو ستونزو سره مخ دي. که څه هم په دې وروستیو کې په افغانستان کې مېشت د امریکا سفارت په کور دننه کډوالو سره د ۱۲۵ میلیونو ډالرو مرستې ژمنه کړې، خو تر اوسه یوازې د دغو کډوالو ۲۷ سلنې ته یې د لومړنیو اړتیاوو لپاره رسیده ګي شوې ده.

که چېرې د کډوالۍ تېر تاریخ او اوسني کړکېچن وضعیت ته پام وکړو، نو دا په ډاګه کېږي چې حکومت نه یوازې د په کور دننه کډوالو لپاره منظمه پالیسي نه لري، بلکې د کمزوري بهرني سیاست له کبله هم په بهرنیو هېوادونو کې د افغان کډوالو اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ دی. نو پاسنیو ټولو مواردو ته په کتو، له بده مرغه نه یوازې دا چې نه شو کولای د کډوالو د روان وضعیت څخه د وتلو لپاره یوه نېټه وټاکو، بلکې دغه پروسه تر دې هم د ناوړه وضعیت پر لور روانه ده.

سوله د ستونزو د حل لاره ده

نږدې څلور لسیزې کېږي چې زموږ خلک د جګړې په اورونو او بارتو په لوګیو کې بند پاتې دي او له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو ډلو سره چې د ډېرو ادرسونو له لوري یې ملاتړ کېږي، په رواني او فزیکي جګړه کې ښکېل دي.


د ملګرو ملتونو سازمان د راپور له مخې، د روان ۲۰۱۹ میلادي کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې د جګړې د ښکېلو لورو لخوا ۱۳٦٦ ملکي وګړي وژل شوي دي. نو له دې څخه معلومېږي، څو چې په هېواد کې رواني جګړې ته د پای ټکی کېښنبودل شي، د کډوالۍ د ستونزې حل هم ناممکن برېښي؛ ځکه چې د جګړې دوام هره ورځ ډېر خلک دې ته اړ کوي، چې خپلې مېنې پرېږدي او په کور دننه او بهر د کډوالۍ لپاره مټې راونغاړي.

په داسې حال کې چې نږدې یو کال کېږي د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان سولې په تړاو د امریکایي او طالب پلاوو ترمنځ مخامخ خبرې رواني دي او څه موده وړاندې یې نهم پړاو پای ته ورسېد، خو په کابل کې د یو امریکایي عسکر تر وژل کېدو وروسته، د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ دغه بهیر ناڅاپه ودراوه. خو له هغې وروسته د ټرمپ له وروستي ټوېټه د سیاسي شنونکو اخذ دا دی، چې ښایي امریکا له طالبانو سره بېرته خبرې پیل کړي. افغانان دې ته په تمه دي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ به تړون لاسلیک شي او په دې سره به بین الافغاني خبرو ته دروازه پرانیستل شي او د هېواد روان کړکېچن وضعیت او د کډوالۍ تورې څپې ته به د پای ټکی کېښنبودل شي.

سوله به نه یوازې دا چې په افغانستان کې د ننه کډوالۍ ته د پای ټکی کېږدي، بلکې په بهر کې مېشتو افغان کډوالو ته به هم د دې زمینه برابره کړي، چې ورو ورو بېرته خپل هېواد ته راستانه شي، نو له همدې کبله سوله د افغانانو لومړیتوب ده او هېڅ شی هم د دغه لومړیتوب ځای نه شي نیولی.

# کابل او پروان؛

## د طالبانو ځانمرګو بریدونو ۱۲۸ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



د سولې خبرو تر لغوه کېدو وروسته، وسله والو طالبانو په کابل او پروان کې دوه ځانمرګي بریدونه وکړل. په دغو بریدونو کې تر ډېره ملکي وګړي ووژل شول او پړه یې وسله والو طالبانو ومنله. په ورته وخت کې امریکا، جرمني او ملګرو ملتونو دغه بریدونه په کلکو ټکو غندلي دي او په خبره یې، په جګړه کې د ملکي وګړو ژوند ته ګواښ جوړول بشري جنایت دی.

تېره ورځ د پروان په مرکز چاریکار ښار کې د ولسمشر غني د ټاکنیز کمپاین غونډه جوړه شوې وه. د غونډې لپاره سخت امنیتي تدابیر نیول شوي وو او زرګونو کسانو په کې ګډون کړی و. له سختو تدابیرو سره سره، ځانمرګي بریدګر دغه غونډه په نښه کړه او نږدې ٦٨ ملکیانو ته یې مرګ ژوبله واړوله. د پروان ولایت ځایي چارواکي وایي چې ځانمرګي بریدګر په موټرسایکل سپور و او د خلکو په ګڼه ګوڼه کې یې په ځان پورې تړلو چاودېدونکو توکو ته چاودنه ورکړه. کورنیو چارو وزارت په یوه خبرپاڼه کې وویل، چې غرمه مهال په پروان کې ځانمرګی برید شوی دی او په پېښه کې د څلورو نظامیانو په ګډون، ۲٦ کسه وژل شوي او ۴۲ نور ټپیان دي. د کورنیو چارو وزارت ویاند نصرت رحیمي مسیر ورځپاڼې ته وویل، چې په وژل شوو او ټپیانو کې ملکي وګړي هم شامل دي.

بلخوا له دې پېښې څه باندې یو ساعت وروسته په کابل کې هم ځانمرګی برید وشو. برید د کابل ښار د نهمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې د احمدشا مسعود له څلور لارې سره د ملي دفاع وزارت پېژنتون ته نږدې وشو. کورنیو چارو وزارت د پېښې د تایید تر څنګ وایي، چې په پېښه کې د شپږو نظامیانو په ګډون، ۲۲ ملکیان وژل شوي او ۳۸ نور ټپیان دي. دغه برید په داسې یوه سیمه کې شوی چې د ملکي وګړو ګڼه ګوڼه پکې ډېره وي او شاوخوا ته یې لسګونه استوګنیز کورونه هم شته دي. وسله والو طالبانو د یادو دواړو بریدونو مسوولیت منلی دی.

کورنیو چارو وزارت بیا د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې وسله والو طالبانو بشري جنایت تر سره کړی دی او د عامو وګړو په منځ کې یې چاودنې کړې دي. دغه وزارت وایي، د یادو پېښو له عاملینو د عامو وګړو غچ اخلي.

له دې سره هممهاله ولسمشر غني هم یاد بریدونه غندلي دي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې وسله والو طالبانو د عامو افغانانو په وژلو یو ځل بیا جنایت تر سره کړ. د ده په خبره، د هغو کسانو وژل چې د ولسواکۍ لپاره را ټول شوي دي او ټول عام افغانان دي، بشري جنایت دی او نړیوال یې باید پر وړاندې اقدام وکړي.

د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي مارک پوتزل هم په پروان کې د ولسمشر غني پر ټاکنیز کمپاین د وسله والو طالبانو برید په کلکو ټکو غندلی دی. هغه ویلي چې طالبانو نه یوازې پر عامو افغانانو برید کړی؛ بلکې د هر افغان پر هغو حقونو یې برید کړی، چې دوی یې د ولسواکۍ د تامین لپاره د قانون په چوکاټ کې لري.

په کابل کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما هم د طالبانو برید غندلی دی او هغه یې جنایت بللی دی. دغه اداري ویلي چې د ښکېلو لورو لخوا د ملکي وګړو وژل او په نښه کول نه ښنل کېدونکی بشري جنایت دی او د جګړې ټولو لورو ته پکار ده چې د عامو افغانانو د ژوند خوندیتابه ته جدي پاملرنه وکړي.

## طالبان: له متحده ایالتونو سره د خبرو د بیا پیل په صورت کې له هغوی سره اوربند هم کوو

که څه هم د امریکا ولسمشر له طالبانو سره د سولې خبرو تر لغوه کولو وروسته څو ځله پر طالبانو د بریدونو د زیاتېدو خبره کړې او پر جګړه یې ټینګار کړی، خو طالبان لاهم له امریکا سره د سولې خبرو ته لېوالتیا لري. په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر او مرکچي پلاوي غړي وایي، که متحده ایالتونه د مذاکراتو مېز ته راوګرځي، دوی چمتو دي چې له هغوی سره کړې ژمنې عملي او له امریکا سره اوربند هم وکړي.

عباس ستانکزي له بي بي سي سره په مرکه کې ویلي، متحده ایالتونه له طالبانو سره د سولې له خبرو پرته بله لار نه لري.

هغه ویلي: «موږ اوس هم خپلو وعدو ته ژمن یو او زموږ مقابل لوری (د امریکا متحده ایالتونه) هم باید خپلو ژمنو ته وفادار پاتې شي، ځکه دوی بله لاره نه لري او دوی باید پوه شي چې جګړه د حل لاره نه ده او موږ غواړو چې روانه ستونزه د خبرو له لارې حل شي». په ورته وخت کې طالبانو ته نږدې کسان هم وایي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکراتو تر لغوه کېدو وروسته، اوس د جرمني، ناروې او قطر په ګډون، ځینو اروپایي هیوادونو او پخپله په متحده ایالتونو کې مطرح شخصیتونو داسې هڅې پیل کړې چې مذاکرات بیا پیل شي. پخوانی طالب چارواکی عبدالسلام ضعیف وایي: «هغو هېوادونو چې مخکې هم په دې پروسه کې دخیل وو، هڅې شروع کړې دي چې د سولې پروسه باید متوقفه نه شي، ځکه دوی په دې عقیده دي چې د افغانستان روانه ستونزه پوځي حل نه لري او باید د خبرو له لارې ورته حل وموندل شي».

په ورته مهال په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر وياند سهیل شاهین وایي، د عبدالسلام حنفي په مشرۍ د قطر دفتر څلور کسیز پلاوي تهران ته د سفر پر مهال، د دې هیواد له چارواکو سره د سولې په تړاو خبرې کړې دي.

نوموړي د سولې په خبرو کې د سیمې هېوادونو رول مهم بللی او وایي چې له مسکو وروسته یې له ایراني چارواکو سره هم په دې تړاو خبرې کړې دي.

د طالبانو د قطر دفتر غړي داسې مهال له امریکا سره د سولې خبرو پر بیا پیل ټینګار کوي، چې د ولسمشر ټرمپ د ملي امنیت پخوانی مشاور جان بولټن چې د سولې له خبرو سره مخالف و، له دندې لرې شو او ویل کېږي چې د دې ځوکۍ لپاره زلمی خلیلزاد وړاندیز شوی دی.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جګړه




په ۲۰۰٦ز کال جګړه شمالي وزیرستان ته ورسېده. دا مهال د پاکستاني طالبانو مشري د حافظ ګل بهادر او مولانا صادق نور په غاړه وه. د خپلو نورو ملګرو په څېر هغوی هم په افغانستان کې له افغان طالبانو سره اوږه په اوږه جنګېدلي وو. دا نوي مشران له سیاست او ټولنیزو مسائلو سره ډېر بلد نه وو.

د جګړې په لومړیو کې د طالبانو موخې خورا واضح وې؛ دا سیمه د افغانستان د جګړې لپاره د یوې اډې په توګه وه، مجاهدین هم همدلته ساتل کېدل، بل لور د القاعدې اړوند عربان او د مرکزي اسیا جګړه ماران هم دلته مېشت وو. د پېښو په شدت تکرار سره، دې سیمې ته د نړیوالو ډېره پاملرنه واوښته. د سیمې، په ځانګړې توګه د پاکستان پالیسي پر دې ور ټوله شوه چې پاکستاني طالبان به په څرګنده توګه پر دوو بهیرونو وېشل کېږي. هغوی د ځاني، مالي او ځینو نورو اړتیاوو له مخې پر القاعدې او د ازبکستان پر اسلامي غورځنګ سربېره له ISI سره هم اړیکې ساتلې.

دغه ډول درځونو په پای کې ځینې وهڅول چې د ۲۰۰۷ز کال په وروستیو کې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) په نوم له یوه سازمان سره یو ځای شي. د دې سازمان مشري د وزیرستان د خلکو په لاس کې وه، خو پکې له فاټا، خیبر پښتونخوا، پنجاب او سیند ولایتونو څخه هم جنګیالیو ګډون کاوه. (TTP) له افغان طالبانو سره کوم مخالفت نه لاره، افغانستان کې یې د ناټو او په نړیواله کچه ملاتړ لرونکي حکومت پر وړاندې له جګړې په اسانۍ جلا شول. پاکستاني تحریک د شیعه ضد افراطي ډلو هم جګړه مار کادرونه په خپلو لیکو کې جذب کړل. له دې ډلو یې یوه هم د پنجاب لشکر جنګوي وه. تحریک په خپله ستراتیژۍ کې شیعه ضد بریدونه هم ځای پر ځای کړل. هغوی د ازبکستان له اسلامي غورځنګ سره هم ائتلاف وکړ، د ۲۰۰۷ز کال د عملیاتو پر مهال چې کله له وانه ووتل، تحریک پناه ورکړه. د (TTP) د قدرت د اوج پر مهال، دې ډلې ځینې وختونه د پاکستان په شمال ختیځ کې پر اکثرو سیمو خپل کنټرول ټینګاوه. د پاکستاني طالبانو د تحریک بنسټګر بیت الله محسود نوم، په ۲۰۰۸ز کال د ټایمز مجلې له لوري د نړۍ د سل بانفوذه وګړو په لړلیک کې خپور شو. کله چې هغه د ۲۰۰۹ز کال په اګسټ کې د امریکایي ډرون الوتکې په برید کې ووژل شو، د پاکستاني طالبانو د تحریک چارې هم ورسره ټکنۍ شوې. پر دې سربېره چې ډېرې سیمې یې له لاسه ووتلې، پر پاکستاني پوځیانو او ملکي وګړو د بریدونو له کبله پاکستانیان سخت ورته غوسه شوي وو. بهرنیو تحلیل کوونکو به ویل چې د جګړه مارو ډلو د جدایي اصلي سبب قومي وېش و.

له اسلاماباد او نورو ترهګرو ډلو سره د هرې ډلې اړیکې بېلې پالل کېدې. د بېلګې په توګه مولوي نذیر احمد په ۲۰۰٦ز کال، وانه کې د ازبکستان اسلامي غورځنګ له نورو ملګرو ډلو څخه ځان لیرې کړ. د هغه ډلې د ۲۰۰۷ز کال په پسرلي کې د پاکستاني ځانګړو ځواکونو په ملتیا د ازبکستان اسلامي غورځنګ پر ضد جګړه وکړه چې په پایله کې یې د دې غورځنګ جنګیالي مرکزي وزیرستان ته په شا کړل. دې ته ورته په ۲۰۰۸ز کال پاکستاني پوځ ضیاء الدین محسود، تحصیل خان او ترکستان بېټني وهڅول چې د پاکستاني طالبانو د تحریک پر ضد وجنګېږي. پر دې سربېره چې په ۲۰۰۹ز کال ضیاء الدین محسود ووژل شو، خو بیا هم دا کسان وتوانېدل چې د وزیرستان پر پوله د پاکستان د طالبانو تحریک له ټانک او اسماعیل خان دېرې وشړي.

د دې شبکې ډېر نور کسان هم راتلونکو کلونو کې ووژل شول. په شمالي وزیرستان کې حافظ ګل بهادر او د هغه مرستیال صادق نور د سولې د یوه تړون په ترځ کې له پاکستاني پوځ سره له جګړې لاس واخیست. پر ډېرو هڅو سربېره بیا هم دا کسان د پاکستاني طالبانو له تحریک یا په ټوله کې په وزیرستان کې له مېشتو طالبانو سره یو ځای نه شول. د ۲۰۰۹ز کال په لومړیو کې د پاکستاني طالبانو تحریک هڅه وکړه له حافظ ګل بهادر سره یو ځای شي. د ۲۰۰۹ز کال په پسرلي یوه رساله کې چې ډېره خپره شوې هم وه، داسې لیکل شوي وو:

((الله ج ټولو مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د کفارو پر وړاندې سره یو شئ. عام مسلمانان او قومندانان چې په ټوله کې یې مشري د ایمانداره ملامحمدعمر او اسامه بن لادن په غاړه ده، باید د کفارو پر وړاندې سره یو شي چې مشري یې د اوباما، زرداري او کرزي پر غاړه ده.))

مولوي نذیر احمد او حافظ ګل بهادر د پاکستاني پوځیانو پر وړاندې جنګ نه کاوه. د ۲۰۰۹ز کال په منې کې د اسلاماباد پوځیانو په مرکزي وزیرستان کې د پاکستاني طالبانو د تحریک پر وړاندې عملیات وکړل. د کال تر پایه یې د (راه نجات) عملیاتو په ترځ کې د پاکستاني طالبانو تحریک د محسودو له سیمو و ویست. د جګړې په ترځ کې یې (۴۰۰۰۰۰) ملکي وګړي هم له دې سیمو خیبر پښتونخوا ته په کډوالۍ مجبور کړل. پاکستاني پوځ له مولوي نذیر احمد سره د جوړجاړي په ترځ کې پر وانه او د احمدزیو وزیرو پر شاوخوا سیمو کنټرول پیداکړ. دې ډلې وانه کې له قومي مخورو سره د سولې په تړاو همکاري کوله. د سولې په ترځ کې پاکستاني پوځ له وانه تر ټانک ولسوالۍ پورې پوخ سړک جوړ کړ.

دوام لري...

# بریالي خلک ځنګه وده کوي

اکسوس کتابپلورنځی

(بریالي خلک ځنګه وده کوي) کتاب تازه پښتو ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال د مدیریت او شخصي انضباط د متخصص او په نړۍ کې پېژندل شوي لیکوال او ویناوال، جان مکسویل اثر دی. د کتاب پښتو ژباړه اېمل همدرد کړې ده.

کتاب د یوولسو څپرکو او یوې سریزې په درلودو سره په ۱۷۲ مخونو کې راټول شوی دی. د دغه کتاب هر څپرکی تر ډېره عملي بڼه لري او لیکوال یې د هر څپرکي له لوستو وروسته، پر عملي کولو ټینګار کوي. لیکوال وايي: «زما مشوره دا ده، چې هر څپرکی یې یو ځل په اونۍ کې ولولئ او له ملګرو سره پرې خبرې وکړئ. د هر څپرکي په پای کې درکړل شوی تمرین ترسره کړئ. هڅه وکړئ چې د ودې سفر مو دوامداره وساتئ، څه مو چې ترې زده کول، په ورځني ژوند کې یې عملي کړئ».


تاسې چې همدا کرښې لولی، دا مو په دې پوره ګواهي ورکوي، چې تاسې لوستي خلک یاستی او حتماً مو له دې مخکې ډېر کتابونه لوستي. ډېر به مو داسې کتابونه، مقالې او یا هم ځینې لیکنې لوستې وي، چې د لوستلو پر مهال به یې تاسې ذهناً او روحاً دواړه له ځان سره وړي یاستی؛ خو له یو څه مودې وروسته به مو هغه خوند له خولې وتلی وي او نه به مو بل چا ته رسولی وي.

پوهېږی دا ولې؛ تاسې له لوستو وروسته پر هغه عمل نه دی کړی. د دغه کتاب لیکوال د همدغه کتاب له لوستو وروسته تاسې ته توسیعه کوي، چې هرمرو یې له لوستو وروسته هر درس عملي کړی، که نه؛ هسې به مو وخت او خپله انرژي د باد په خوله ورکړې وي. موږ هر یو پیاوړی ځواک لرو، خو ډېر کله له خپل دغه مهارته ناخبره پاتې کېږو. د کتاب لیکوال په دې اړه وايي: «ځواک یوه په زړه پورې کلمه ده، چې له هیله منډۍ سره یو ځای مخ پر وړاندې ځي. له هیلې سره یو ځای کېږي، د بریالیتوب ژمنه کوي او پر تحقق دلالت او ښکلا ته اشاره ده. ځواک هغه کلمه ده چې اساس یې پر امکاناتو نه؛ بلکې پر باور ولاړ دی. تاسې هر یو پیاوړی ځواک لری».

لیکوال وايي، له هغه وخته چې تاسې دا کلمې لولی، زه پر دې باور لرم، چې تاسې خپل ځواک ته د رسېدو قوي لېوالتیا لری. نو اوس پوښتنه دا ده او کېدای شي ستاسې په ګډون، ډېر لوستونکي له دې پوښتنې سره مخ وي، چې ځنګه کولای شو؟ ځواب یوازې د ودې لپاره مخ پر وړاندې تګ دی. تاسې باید پوره ژمن و اوسئ، سم چلند ته مو وده ورکړئ، د خپل ځواک په اړه ډېر پوه شئ، د خپلې مینې پر لور وخوځېږئ او تل له خپلو موخو سره په اړیکه کې و اوسئ. هغو مهارتونو ته وده ورکړئ، چې پر مټ یې موخو ته رسېدلی شی.

په ټوله کې دا کتاب درته وايي، که غواړی خپلو موخو ته ورسېږی، خپلو خبرو ته وده ورکړئ. که غواړی ارزښت لرونکي و اوسی، باید خپل شخصیت ته وده ورکړئ. که غواړی په خپل کار کې ماهر و اوسی، خپل مهارتونه لوړ کړی.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ذهنیت سازی | داکتر منصور مجاب | ۲۰۰ؑ |
| ۲ | من سه نفرهستم | دکتر حسن شاهدی | ۱۵۰ؑ |
| ۳ | مذاکره | برایان تریسی | ۱۲۰ؑ |
| ٤ | بانک سوالات علوم اجتماعی و دینی2019 | افغان ترک | ۲۵۰ؑ |
| ٥ | بانک سوالات کیمیا2019-2020 | افغان ترک | ۲۸۰ؑ |
| ٦ | کیمیا2019/2020 | افغان ترک | ۲۸۰ؑ |
| ۷ | بیولوژی 2019/2020 | افغان ترک | ۲۵۰ؑ |
| ۸ | خواص میوه ها و سبزی ها | کاظم کیانی | ۱۲۰ؑ |
| ۹ | خواص و مضرات گیاهان دارویی | کاظم کیانی | ۱۵۰ؑ |
| ۱۰ | خود آموز گام به گام ریاضی | ضیا احمد احمدی | ۱۲۰ؑ |
| ۱۱ | داستان های از رفتار نیکو -۱رسم ها و رسام ها | | ۵۰ؑ |
| ۱۲ | داستان های از رفتار نیکو -۲نامه ها | | ۵۰ؑ |
| ۱۳ | داستان های از رفتار نیکو -۳برکت در خوشه ها | | ٦۰ؑ |
| ۱٤ | داستان های از رفتار نیکو -۴کلید گنج | | ٦۰ؑ |
| ۱۵ | داستان های از رفتار نیکو-۵برادران یاری رسان | | ٦۰ؑ |
| ۱٦ | در امدی بر علوم قرانی | مناع القطان | ۲۰۰ؑ |
| ۱۷ | دموکراسی | میرزاگل جلالزی | ۱۰۰ؑ |
| ۱۸ | دوستان پیامبر -۱ رفیق راه | | ۵۰ؑ |
| ۱۹ | دوستان پیامبر -۲ خریدار واقعی | | ۷۰ؑ |
| ۲۰ | دوستان پیامبر -۳مهمان خوش قدم | | ٦۰ؑ |
| ۲۱ | دوستان پیامبر -۴قلب شکسته | | ۵۰ؑ |
| ۲۲ | راهبردها و فنون طراحی آموزشی | سینتیا بی لشین | ۲۰۰ؑ |
| ۲۳ | روابط خارجی افغانستان در نیمه اول قرن بیست | محمد فاضل صاحبزاده | ۳۷۰ؑ |
| ۲٤ | روانشناسی رشد 2 جلدی | حسین لطف آبادی | ٤۰۰ؑ |
| ۲۵ | سلسله ایمان -۱ به خداوند ایمان دارم | | ۷۰ؑ |
| ۲٦ | سلسله ایمان -۲ به فرشتگان ایمان دارم | | ٦۰ؑ |
| ۲۷ | سلسله ایمان-۳به کتابها ایمان دارم | | ۵۰ؑ |
| ۲۸ | سلسله ایمان -۴به پیامبران ایمان دارم | | ٦۰ؑ |
| ۲۹ | سلسله ایمان -۵به روز آخرت ایمان دارم | | ۵۰ؑ |
| ۳۰ | سلسله ایمان -٦به قضا و قدر ایمان دارمپ | | ۵۰ؑ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۵ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۲۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹٦,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# اشتهار

**لیکنه: ګلاب بهار / لومړۍ برخه**

اشتهار او بازارموندنه د کاروبار د سکټور یو اساسي عنصر ګڼل کېږي، چې بازارموندنه د تولید شوو موادو لپاره د مناسب بازار د پیدا کولو له پلټنې څخه عبارت ده. د بازارموندنې د سیالۍ امکانات په داخل د هېواد کې په ملي کچه او بهر له هېواد څخه په نړیواله کچه صورت نیسي. یانې کله چې متشبثین پانګونه کوي، نو د پانګونې له محصولاتو څخه یې موخه دا وي، چې د هرې برخې حاصلات یې بازار ته وړاندې شي، چې په مختلفو لارو او طریقو سره یې بازار ته وړاندې کوي. یوه مهمه وسیله د هېواد په داخلي محصولاتو او تولیداتو په بهرنیو بازارونو کې د اشتهار موضوع تشکېلوي. همدارنګه نور داسې موضوعات لکه سوداګریز سیاستونه، د عاید تشکل یا جوړښت، د قیمت جوړښت، د تولید عوامل د عرضې او تقاضا په اساس، د جذب قدرتي احصایوي مؤثق معلومات د بازار د اعدادو او ارقامو په باره کې بحث کوي.

لکه څرنګه چې پوهېږو اشتهار د بازارموندنې د سیالۍ د پېرودلو د قدرت په جذبولو او همدارنګه پر بازار باندې تسلط راوستلو کې خورا زیات ارزښت لري، نو مونږ نه شو کولای له اعلاناتو او تبلیغاتو پرته د مارکېټنګ په سمه توګه سوداګریز فعالیتونه ولرو. د دې لپاره چې خپلې موخې ته ورسېږو، نو لازمه ده چې د تولیداتو لپاره اشتهارات او بازارموندنه وکړو. یانې که چېرې مونږ د بازارموندنې یو ښه تبلیغاتي سیستم ولرو، چې زمونږ کاروبار او تولیدات او زمونږ د خدماتو عرضه زمونږ اخیستونکو ته ور وپېژني، په دغه صورت کې بازارموندنه زموږ تجارت ته مرستندویه واقع کېږي او زمونږ سوداګریز فعالیتونه ښه پرمخ ځي.

په لنډ ډول ویلی شو چې اشتهار (Advertising) له یوې لاتیني کلمې څخه اخیستل شوی دی، چې مانا یې یو څیز ته پام ورګرځول دي یا د شیانو، خدماتو او خیالاتو په اړه د اطلاعاتو برابرول، چې د شیانو د خرڅلاو او یا د مناسب ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره کارول کېږي، چې لاندې نقاط په کې شامل دي:

د پرمختیا خاصیت: د شیانو په اړه پلان جوړونه، د بیو ټاکل او د شیانو په اړوند د مارکېټ فعالیتونه د کاروبار په د ننه کې تر سره کېږي، خو شیانو ته د پرمختیا ورکولو د فعالیتونو په اړوند کمپنۍ خپل مشتریان خبروي، په راتلونکو بحثونو کې به تاسو ته دا جوته شي چې شیانو ته ترقي ورکول او د هغې تشهیرول څه اسان کار نه دی.

په اصل کې د promotion) تایید او ترقي) لفظي مانا د اغېزمن کولو کوښښ دی، په ځانګړې توګه په ګډ مارکېټ کې د اداري ترقي یو داسې عنصر دی، چې د خبرتیا، هڅولو، په مارکېټ کې د شیانو یاداښت او ذکر کولو یا د هغو ادارو په باب د اطلاع ورکولو چې شیان خرڅولو ته وړاندې کوي، مهم رول لوبوي او دا په دې امید سره چې د خریدارانو احساسات، نظریات او رویه تر تاثیر لاندې راولي او د یوې اداري بشپړ اطلاعاتي نظام ته ګډه ترقي ویل کېږي او دا له لاندې عواملو څخه مشتمله ده:

- تشهیر
- په مستقیم ډول یا بلاواسطه پلورل
- دخرڅلاوزیاتوالی
- عامه اړیکې

تشهیر: کومه معروفه اداره چې د تادیه کولو په ذریعه په غیر شخصي ډول د خیالاتو، شیانو او خدماتو تعارف وکړي، دې ته تشهیر وایي.

په مستقیم ډول یا بلاواسطه پلورل: په مستقیم ډول پلورل یا له یوه څخه زیات متوقع خریداران په شفاهي ډول د شیانو پلورلو ته هڅول او د هغوی قانع کول دي.

په خرڅلاو کې زیاتوالی: په خرڅلاو کې زیاتوالی د شیانو یا خدماتو د اخیستلو او پلورلو د ډاډ په خاطر د لنډ وخت لپاره د ترغیب او هڅونې عمل ته وایي.

ټولنیزې اړیکې: د غوره پالیسۍ له مخې له خلکو سره د کمپنۍ ښې اړیکې ټینګول، مضبوط تصور پیدا کول او د ناوړه واقعاتو او افواهاتو له منځه وړلو ته عامه تعلقات وایي.

د تشهیر له ځانګړتیاوو او اصلي تصور څخه د خبرتیا لپاره د لاندې تعریفونو لوستل ضروري دي:

۱. امیرکن مارکېټنګ انجمن د تشهیر تعریف داسې کړی دی: د کومې معروفې اداري لخوا له تادیه کولو وروسته په غیر شخصي یا مشخصي طریقې سره د خیالاتو، شیانو او خدماتوڅرګندولو ته تشهیر وایي.

۲. ویلیم سټاینټن د تشهیر تعریف داسې کوي: تشهیر هغه ډول ټول فعالیتونه په خپل لمن کې رانغاړي، چې تر مخې یې د خلکو پر وړاندې غیر شخصي، ژبنې او تصویري ډول د شیانو، خدماتو او خیالاتو د کوم معروف سپانسر لخوا له تادیه کولو وروسته څرګندونه وشي.

۳. ډیچر د تشهیر تعریف داسې کړی دی: تشهیر د شیانو، خدماتو او خیالاتو په اړوند د مطلقو اطلاعاتو برابرول، له تادیه کولو وروسته د شیانو، د خرڅلاو او یا د مناسب ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره تر سره کېږي.

د پورتنیو تعریفونو له تحلیل وروسته دا لاندینۍ ځانګړتیاوې په ډاګه کېږي:

۱. څرنګه چې د تشهیر لپاره په میډیا (ورځپاڼو، ټلویزیون، راډیو، مجلو، اونیزو) کې وخت او ځای ته اړتیا ده، د کومو لپاره چې پیسې تادیه کېږي.

۲. په تشهیر کې کمونیکیشن (Communication) تر ټولو چټک عمل چې تشهیر ته اجازه ورکوي، چې په سلګونو زره متوقع یا احتمالي خریداران په ډېر کم وخت کې خبر کړي، دا یو مجموعي وړاندیز وي. پر دې سربېره، غیر شخصي داسې وي چې یو شخص له بل شخص یا ډېرو اشخاصو سره پرته له کوم پرسونل څخه ارتباط ټینګ کړي.

۳. د شیانو تشهیر د راډیو، اډیو، ویډیو، فلم، ټلویزیون او ورځپاڼوله لارې هم کېدای شي.

۴. د تشهیر په واسطه په خلکو کې د شیانو د اخیستلو تقاضا پیدا کېږي.

۵. تشهیر د کومې پېژندل شوې اداري لخوا تر سره کېږي او سپانسر نوم ورکې نه وي. که سپانسر څرګند نه وي، نو دا کار په خلکو کې د بدګومانۍ او فریب اندېښنه پیدا کوي.

**د تشهیر ډولونه**

**اول- د تولیداتو او ادارو تشهیر**

د شیانو تشهیر لکه څرنګه یې چې له نوم نه څرګندېږي کله چې مخصوص شیان او خدمات په غیر مستقیم ډول وپلورل شي، نو دې ته د شیانو تشهیر وایي. د غیر مستقیم ډول څخه مراد دا دی، چې په هغې کې پرسونل برخه نه اخلي، بلکې د تشهیر له لارې دا کار شونتیا مومي. د ادارو له تشهیر څخه هدف کله چې د کومې کمپنۍ یا اداري د اعتبار، تصور، خیالاتو او فلسفې څرګندونه وکړای شي؛ نو هغې ته اداري تشهیر وایي او دا ډول تشهیر د عامه تعلقاتو په ډله کې راځي.

**دویم- د مستهلکینو او تجارتي تشهیر**

کله چې د تشهیر هدف د مشتریانو یا مستهلکینو په تقاضا کې اضافه کول وي؛ نو داسې عمل ته د مستهلکینو تشهیر وایي. په دې ډول تشهیر کې د کمپنۍ هدف، لګښت کوونکي وي، په داسې حال کې چې د تجارتي تشهیر هدف، د تجارتي متوسطینو په تقاضا کې اضافه کول دي، په دې ډول تشهیر کې کارخونه لرونکي منځګړی هدف ګرځول کېږي.

**درېیم- متناسب او تقابلي تشهیر**

کله چې د شیانو د اوصافو موازنه له تقابلي برانډ سره د تشهیر په واسطه وکړای شي؛ نو دې ته متناسب تشهیر (comparative) وایي. د دې بر عکس کله چې د یو ډول شیانو له جملې څخه د کوم شي د برترۍ په ذریعه مستهلکین قایل کړای شي، نو دې تشهیر ته تقابلي(competitivte) تشهیر وایي.

**څلورم- وګړیز او ډله ییز تشهیر**

کله چې کوم کاروبار د تشهیر لګښت په خپله برداشت کړي، نو داسې تشهیر ته وګړیز تشهیر وایي. د دې ډول تشهیر هدف د برانډ پېژندنه، منل او د کمپنۍ وقار او اعتبار جوړول دي، خو که چېرې د تشهیر لګښت کارخونه لرونکي او تجارتي متوسطین په ګډه په غاړه واخلي، نو دې ډول تشهیر ته ډله ییز تشهیر وایي.

**پنځم- ملي او سیمه ییز تشهیر**

د هېواد په سطحه یا ملي تشهیر د عمده فروشاتو او مؤلدینو په وسیله په لوړه کچه د شیانو د خرڅلاو په موخه صورت نیسي، په داسې حال کې چې سیمه ییز تشهیر په یوه ځانګړې سیمه کې تر سره کېږي.

**دوام لري...**

## <u>د ټاکنو کمېسیون کمېشنر:</u> ګواښونو ته په کتو د رای اچونې وروستی نوملړ واقعي نه دی

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د رای اچونې د مرکزونو نهایي نوملړ چې امنیتي ادارو له دوی سره شریک کړی، واقعي نه دی.

د دغه کمېسیون کمېشنر محمد عبدالله پرون د ټاکنو ملي کنفرانس ته ویلي، په دغه نوملړ کې ویل شوي چې د اروزګان، زابل، هلمند، نیمروز، پکتیا، خوست، ننګرهار، غزني او کنړ د رایې ورکولو ټول مرکزونه به پرانیستي وي.

هغه وایي، امنیتي اداري داسې مهال د ټاکنو کمېسیون ته دا ډاډ ورکوي، چې په یادو ولایتونو کې ډېرې امنیتي ستونزې شته.

د هغه په خبره، د امنیتي ادارو د راپور له مخې، د ټاکنو په ورځ به ۴۳۱ مرکزونه تړلي وي، ٦۷۵ مرکزونه له لوړ امنیتي ګواښ او ۹۰۷ مرکزونه له ټیټ امنیتي ګواښ سره مخ دي او ټولټال به ۳۳٦۰ مرکزونه پرانیستي وي.

هغه زیاته کړې، د ټاکنو کمېسیون د کارکوونکو په استخدام کې سیاسي، ژبنۍ او قومي مداخله روانه ده او د بایومټریک ټکنالوژۍ هم ستونزه لري.

خو د دغه کمېسیون د دارلانشا رییس حبیب الرحمن ننګ د عبدالله دا ادعاوې رد کړې او په خبره یې چې د کارکوونکو استخدام سلیقوي نه دی او د طرزالعمل له مخې شوی دی.

دغه راز یاد کمېسیون ویلي چې له ولسمشریزو ټاکنو څخه د څار لپاره تر اوسه ۷۷ زره او ۲۵٦ ناظرینو له دوی څخه کارتونه تر لاسه کړي دي.

د دغه کمېسیون د دارالانشا عملیاتي مرستیال محمدعثمان فروتن یاد کنفرانس ته ویلي، له ۵۱ زرو څخه زیات کسان د کاندیدانو او څه باندې ۲٦۲۰۰ نورو د رسنیو، مدني ټولنې او سیاسي ګوندونو په استازیتوب د نظارت کارتونه اخیستي.

هغه زیاته کړې: «له شک پرته د ښکېلو خواوو، مدني ټولنې او ټولو ناظرو بنسټونو رول له موږ سره زیاته مرسته کوي، ترڅو شفاف او عادلانه انتخابات په ټول افغانستان کې ولرو».

د یاد کمېسیون دغه چارواکي له ټولو اړوندو بنسټونو غوارې چې له ټاکنو څخه د نظارت د کارت د تر لاسه کولو لپاره پر وخت اقدام وکړي. کمېسیون داسې مهال لسګونو زرو کسانو ته د نظارت کارتونو د ورکولو خبره کوي، چې ورمه ورځ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي یا یوناما په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د شفافیت د تامینولو لپاره د ناظرانو رول مهم بللی و. یوناما له ټولو نوماندانو او په ټاکنو کې له ښکېلو بنسټونو څخه غوښتي وو، چې خپلو استازو ته د نظارت کارتونه تر لاسه کړي.

## د سولې خبرو تر لغوه کېدو وروسته، طالب څلور کسیز پلاوی ایران ته تللی دی

له طالبانو سره د امریکا د سولې خبرو تر لغوه کېدو وروسته، د طالبانو د قطر دفتر څلور کسیز پلاوی تر روسیې وروسته، ایران ته تللی دی.

دغه طالب پلاوی د افغان سولې په اړه ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو ته داسې مهال سفرونه کوي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپټمبر په اوومه ورسره د سولې خبرې لغوه اعلان کړې.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر وياند سهیل شاهین پر خپل ټوېټر لیکلي، په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر د مرستیال عبدالسلام حنیفي په مشرۍ، د دوی څلور کسیز پلاوي له ایراني چارواکو سره د سولې په اړه خبرې کړې دي. هغه دغه راز ویلي چې د افغان سولې په اړه د ګاونډیو هېوادونو رول ورته مهم دی.

شاهین زیاته کړې: «د سولې پروسې د وروستیو تحولاتو، په هېواد کې د ایران د اقتصادي پروژو د پرمختګ او خوندیتوب او د یوې پایداره سولې پر لارو چارو یې ورسره خبرې کړې دي».

په ورته مهال، ایراني رسنیو هم دغه هېواد ته د طالبانو د سیاسي دفتر د پلاوي سفر تایید کړی او ویلي یې دي چې طالبانو له ایراني چارواکو سره پر بین الافغاني مذاکراتو او له طالبانو سره د امریکا د مذاکراتو د لغوه کېدو په اړه خبرې کړې دي.

ایران یو له هغو هېوادونو څخه دی چې له طالبانو سره یې د امریکا د خبرو د لغوه کېدو په اړه اندېښنه ښودلې وه.

د یادونې وړ ده چې د تېرې جمعې په ورځ د شېرمحمد عباس ستانکزي په مشرۍ، د طالبانو یو بل درې کسیز پلاوی پر افغان سولې د بحث لپاره روسیې ته هم تللی و.

د طالبانو دغه ویاند ویلي چې د افغانستان لپاره د روسیې له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف سره یې پر افغان سوله خبرې کړې دي.

بلخوا د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي مسکو ته د طالبانو تر سفر وروسته ویلي، چې د طالبانو سفرونه کومه نتیجه نه ورکوي.

صدیقي یادو هېوادونو ته د طالبانو سفرونه د هغوی د سیاسي ماتې په مانا بللي او زیاته کړې یې ده چې طالبانو د سولې اصلي ادرس ورک کړی دی.

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily








چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وږي ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د سپتمبر ۱۸مه | ۴۳۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۲ | ۳۶ | ۳۱ | ۳۷ | ۳۲ |
| ۱۴ | ۱۶ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۱۴ | لمر ختل ۰۵:۳۷ | ماسپښین ۱۱:۴۹ | مازدیگر ۰۳:۱۹ | ماښام ۰۵:۵۹ | ماخوستن ۰۷:۲۳

## نړۍ




## شورای راه نجات خواستار از سرگیری گفت‌وگوهای امریکا و طالبان شد



در حالی که ناامنی‌ها در افغانستان رو به افزایش است و نشانه‌ای از سرگیری گفت‌وگوهای امریکا و گروه طالبان هم دیده نمی‌شود، شورای راه نجات افغانستان خواستار از سرگیری گفت‌وگوهای امریکایی با این گروه است.

اکبر آغا رئیس این شورا در این باره به رادیو آزادی گفته است: «تا جایی که گفت‌وگوهای صلح انجام شده، ما می‌گویم که دوباره از همانجا گفت‌وگوها آغاز شود تا مشکلات زودتر پایان یابد، زمینه آغاز مذاکرات بین افغان‌ها و برقراری آتش‌بس فراهم شود تا افغان‌ها از این حالت غمناک رهایی یابند.»

اعضای این شورا می گویند، پس از آنکه مذاکرات مقام‌های امریکایی و طالبان لغو شد، حمله‌های انفجاری، عملیات‌های شبانه و نبرد در این کشور گسترش یافته است، اما زیان این همه به غیر نظامیان می‌رسد.

پیشتر سهیل شاهین سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در قطر گفته است که یک هیئت این گروه به رهبری مولوی عبدالسلام حنفي به ایران سفر کرده تا با مقام‌های آن کشور در باره موضوع‌های گوناگون گفت‌وگو کند.

شماری از کارشناسان روابط بین‌الملل بدین باور اند که پس از لغو گفت‌وگوهای مقام‌های امریکایی و طالبان، اکنون این گروه زیر فشار قرار دارد.

خالد سادات، کارشناس روابط بین‌الملل می‌گوید، طالبان تلاش می‌کنند با میانجی‌گیری چین و روسیه بار دیگر گفت‌وگو با امریکا را از سر گیرند.

آقای خالد گفت: «طالبان زیر فشارهای نظامی قرار دارند. آنان دریافته‌اند که بزرگترین دستآورد را از دست داده‌اند. حالا تلاش می‌ورزند تا با همکاری کشورهای منطقه به این هدف دست یابند. تلاش می‌ورزند که با معامله مستقیم این کشور، تعاملات سیاسی و میانجیگری آن‌ها بار دیگر زمینه گفت‌وگوهای صلح فراهم گردد.»

## اردوغان: دری میلیونه کډوال کولی شي چې د سوریې په شمال کې «امن سیمې» ته لاړشي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، چې دری میلیونه سوري کډوال کولی شي چې د سوریې په شمال کې رامنځته شوې «امن سیمې» ته لاړشي.

نوموړي ویلي چې د امن په نوم په رامنځته شوې سیمه کې هېڅ ډول گواښ نشته او دوی له نورو هېوادونو سره په گډه هڅه کوي چې دغه سیمه نوره هم پراخه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې سیمه کې تر دې وړاندې د امریکا له ملاتړ څخه برخمن کرد جنگیالي مېشت وو، چې اوسمهال له دغه ځایه په شا شوي دي.

دغه طرحه د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان وړاندې کړې وه چې د کرد جنگیالیو له سخت غبرگون سره هم مخ شوې وه، ځکه دوی ادعا کوله چې په دې سیمه کې داسې کسان ځای پر ځای کېږي، چې د دې سیمې اصلي اوسېدونکي نه دي.

د اردوغان د دغه اعلان په تړاو کرد جنگیالیو تر دې دمه څه نه دي ویلي.

له دې مخکې ترکیې خبرداری ورکړی و چې که د سوریې په شمال کې د امن سیمه رامنځته نه شي، ښایي ډېری سوري کډوال د اروپا پر لور کډوالۍ ته مخه کړي.

د راپورونو له مخې، اوسمهال په ترکیه کې ۳.۶ میلیونه سوري کډوال مېشت دي چې ژوند یې له جدي ستونزو سره مخ دی.

## ملگري ملتونه: په منځني ختیځ کې وروستیو ناندریو د یمن کړکېچ لاپېچلی کړی دی



د یمن لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي مارتین کریفیث خبرداری ورکړی چې په منځني ختیځ کې وروستیو ناندریو د دغه هېواد کړکېچ لا پېچلی کړی دی.

نوموړي د یمن په تړاو د ملگرو ملتونو امنیت شورا غونډې ته ویلي، چې په سیمه کې وروستیو کړکېچونو او په ځانگړي ډول د سعودي عربستان د تېلو پر مرکزونو وروستیو بریدونو د یمن د ستونزې سوله ییز حل له خنډ سره مخ کړی دی.


هغه زیاته کړې: «دغه ډول خطرناک اقدامات به یمن داسې جگړې ته بوځي، چې سوله ییز حل به یې بیا ناممکن وي، دغه حالت په هېڅ ډول د یمن لپاره ښه نه دی». هغه زیاته کړې چې که څه هم تر اوسه د سعودي د تېلو پر مرکزونو د برید اصلي عامل نه دی په ډاگه شوی، خو د حوثیانو له لوري د دغه برید مسوولیت منلو یمن د یوه گواښوونکي وضعیت پر لور روان کړی دی.

هغه د امنیت شورا پر غړو غږ کړی چې پرېږ نه ږدي دغه هېواد د یوې نوې سیمه ییزې جگړې پر ډگر بدل شي.

په ورته وخت کې د ملگرو ملتونو د عمومي منشي لومړي مرستیال مارک لوکوک بیا د سعودي د تېلو پر مرکزونو بریدونه غندلي او د یمن د جگړې پر ښکېلو غاړو یې غږ کړی، چې ژر تر ژره له سوله ییزو لارو څخه دغه کړکېچ پای ته ورسوي.

## ژوند

## په ناروغۍ کې ورزش وکړو؟




په منظم ډول ورزش کول د روغتیا لپاره تر ټولو ښه طریقه ده. که منظم ورزش کوی، د زړه او شکرې له ناروغیو به په امن وی، وزن به مو مناسب وي او د ناروغیو پر وړاندې به مو د بدن مقاومت لوړ وي. په دې کې هېڅ شک نشته، چې ورزش د روغتیا ضامن دی. خو کېدای شي له تاسو ډېرو سره دا پوښتنه پیدا شوې وي، چې د معمولو ناروغیو پر مهال ورزش څنگه دی.

دې دا ډول ناروغیو پر مهال ورزش کول، له تاسې سره له یادو ناروغیو په ژر ښه کېدوکې مرسته کوي او که یې لا ځنډوي؟ دا چې ورزش په ټوله کې د روغتیا لپاره گټور دی او له بېلابېلو ناروغیو څخه مخنیوی کوي، خو ځینې وخت د ناروغۍ پر مهال ورزش مثبتې او ځینې وخت بیا منفي پایلې هم لري. ډاکټران وایي، د خفیف زکام، غوږ درد، پزې بندوالي او د ستوني درد پر مهال ورزش کول تاوان نه لري، خو که مو زیاته تبه وي، پر له پسې ټوخېږی، معده او کلمې مو درد کوي او یا پر انفولانزا اخته وی، نو بیا ورزش درته ښه نه دی. ډېرې نورې ناروغۍ هم شته چې انسان پرې اخته کېږي، نو ښه ده چې له خپل معالج ډاکټر سره مشوره وکړئ، چې ایا د اړوندې ناروغۍ پر مهال ورزش کولو اجازه در کوي او که نه؟

## د مثبت فکر تر څنگ، عمل کول هم اړین دي

دا سمه ده چې په هېواد کې له کړکېچنو حالاتو سره کېدای شي ستاسې ژوند هم اغېزمن شي، خو خبره دومره هم د اندېښنې وړ نه ده. ځکه خدای پاک په خپله وایي، زه ستاسې ساتنه کوم. تمرکز مو باید پر دې وي چې ذهن مو په سم او مثبت ډول په حرکت راولی او تر څنگ یې لاس په کار هم شی. په زړه پورې او ښه خبره خو دا ده چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره یوازې اقتصاد زموږ سرچینه نه ده، بلکې زموږ ژوند او مرگ یوازې د خدای پاک په واک کې دی. تاسې پوهېږی چې هرڅه د خدای پاک په واک او اختیار کې دي. هرڅه ته چې غواړی ورسېږی، رسوي مو؛ خو دا په تاسې پورې اړه لري چې ایا خپله هم ورته رسېدل غواړی او که نه؟ هیله په زړه کې لری، که مو هرڅه تقدیر ته سپارلي دي؟ دا ستاسې اختیار دی




چې په ستونزو کې ژوند کوی او که د ځان لپاره ښه او هوسا ژوند برابروی؟ څه چې غواړی، پر هماغه شي تمرکز هم وکړئ. دا تاسې یاست چې ټاکنه کوی. یا په بل عبارت، راتلونکې ستاسو په لاس کې ده، دا چې څه ډول یې غواړی، نن پرېکړه ستاسو راتلونکې جوړوي. نو ښه پرېکړه وکړئ، څو ښه ژوند وکړی.